FEWS NET
FAMINE EARLY WARNING SYSTEMS NETWORK


# د افغانستان د خواړو د خونديتوب وړاندوينه

د ۲۰۲۰ له جون څخه د ۲۰۲۱ تر جنوري پورې

## د حاصلاتو له راټولولو سره جوخت په کليوالو سيمو کې د خواړو د مصرف وضعيت سمون مومي، په داسې حال کې چې تمه کيږي بيوزله خلک په ښارونو کې له کمښت سره مخ شي

### مهم پيغامونه

د خواړو د خونديتوب اوسنی پايلې، جون ۲۰۲۰




سرچينه: *FEWS NET*

د FEWS NET طبقه بندي له IPC سره سمون خوري. له IPC سره منطبق پروتوکولونه د IPC مهم پرتوکولونه تعقيبوي خو لزوماً د خواړو د ونديتوب د اجماع د ملي شريکانو د اجماع ښکارندويه نده.


- د ۲۰۱۹ له اکتوبر څخه د ۲۰۲۰ تر مي پورې له منځنی کچې څخه د لوړو ورښتونو په پام کې نيولو سره، تمه کيږي چې په هېواد کې د غنمو د توليد کچه منځنۍ کچې ته نږدې وي. خو له دې سره سره، د هېواد د شمالي برخو په څېر ځينو ځايونو کې له اکتوبر څخه تر دسامبر مياشتې پورې د ورښت د کمښت له امله، او همدارنګه په يو شمېر ځانګړو ختيزو او سويلي سيمو کې په نباتي ناروغيو باندې د نباتاتو د ککړېدو له امله تمه کيږي چې د توليد اندازه له منځنۍ کچې څخه يوڅه لږ وي. په ورته وخت کې تمه کيږي چې د هېواد په ختيځ کې د سابو او ميوو توليد په منځنۍ کچه کې وي چې په خپل وار سره عايد ته لاسرسي کې ګټور واقع کيږي. له منځنۍ کچې څخه د لوړو ورښتونو له امله سږ کال د څرځايونو وضعيت هم د څارويو لپاره په منځنۍ کچه کې او يا هم له منځنۍ کچې څخه لوړه کچه کې دی او د څارويو د ډله ييزې کډوالۍ تمه نه کيږي. دم ګړی، تمه کيږي چې له کرنيزو توليداتو څخه ترلاسه شويو خوراکي توکو ته د لاسرسي زياتوالی پايلو کې په ډېرو سيمو کې د فشار (د IPC دويم پړاو) تر کچې سمون راولي.
- په ښارونو کې د کرونا ويروس له امله په لګېدلو بنديزونو کې د کمښت له راتګ سره جوخت په مې مياشت کې کار ته لاسرسی ډېر او په ځينو بيوزله کورنيو کې د خواړو د مصرف کچه لوړه شوه. خو له دې سره سره، د کار په بازارونو باندې د کرونا ويروس د شديدې اغېزې او د لومړنيو خوراکي توکو د بيو د لوړېدو له امله، د ګڼ شمېر کورنيو وضعيت لا تر دې دمه نورمال حالت ته ندی را ګرځېدلی. بشرپاله مرستو او زکات ښايي د وروستيو مياشتو په ترڅ کې د ګڼ شمېر کورنيو د خوراکي توکو د مصرف تشه ډکه کړې وي؛ خو له هغې سره سره تمه کيږي چې ګڼ شمېر ښاري بيوزله کسان د خواړو له کمښت سره مخ شي او د نورو مرستو د نه رسېدلو په صورت کې ښايي د ناورين پايلې (د IPC دريېم پړاو) لږ تر لږه د ۲۰۲۱ کال تر جنوري پورې دوام ومومي.
- د ۲۰۲۰ کال د جنوري او مې مياشتو په اوږدو کې شاوخوا ۸۶۴۰۰ کسانو د جګړې له وېرې څخه خپل کورونه خوشې کړل څرنګه چې تر ټولو ډېر کورني بېځايه شوي د هېواد له ختيځو، شمالي، شمال ختيځو او سويلي برخو څخه دي. ګڼ شمېر دغه کورنی له خپلو معيشتي سرچينو څخه د بېلېدلو له امله ښايي د خوراکي توکو له کمښت او د ناورين (د IPC دريېم پړاو) له پايلو سره مخ شي. سربېره پر هغې، څه دپاسه ۳۰۰۰۰۰ غير قانوني افغان کډوال د ۲۰۲۰ کال له جنوري څخه تر مې مياشتې پورې افغانستان ته بېرته را ستانه شوي دي. ډېری دغه بېرته راستنېدونکي له ايران څخه د اقتصادي کمزورتيا او په هغه هېواد کې د کرونا ويروس د پانديمي د شدت موندلو له امله بېرته هېواد ته را ستانه شوي دي.

### د يوه نورمال کال لپاره موسمي کليز



*FEWS NET* پروژه د *USAID* له خوا تمويلېږي. د دغه رپوټ منځپانګه لزوماً د امريکا د متحدو ايالاتو د نړيوالي پراختيايي اداري او د امريکا د حکومت د نظرياتو منعکسوونکي نده.

USAID FROM THE AMERICAN PEOPLE





سرچینه: *FEWS NET*

## ملي کتنه


### *اوسنی وضعيت*

د خوارو د خونديتوب اټکل شوې پايلې – د ۲۰۲۰ سپټامبر




سرچينه: *FEWS NET*

د خوارو د خونديتوب اټکل شوې پايلې، د ۲۰۲۰ اکتوبر څخه د ۲۰۲۱ تر جنوري پورې




سرچينه: *FEWS NET*

د FEWS NET طبقه بندي له IPC سره سمون خوري. له IPC سره منطبق پروتوکولونه د IPC مهم پرتوکولونه تعقيبوي خو لزوماً د خوارو د ونديتوب د اجماع د ملي شريکانو د اجماع ښکارندويه نده.


د هېواد په ګڼ شمېر سيمو کې د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر او د ۲۰۲۰ کال د مې مياشتو تر منځ له منځنۍ کچې سره برابر او يا هم ورڅخه ډېر ورښتونه وشول څرنګه چې په ټوليزه توګه تر ټولو ډېر ورښتونه په ختيځو، سويلي، سويل ختيځو او لويديځو سيمو کې ثبت شول (لومړی انځور). په هر حال، په بدخشان ولايت کې د ورښت کچه خورا ډېره له منځنۍ کچې څخه ټيټه وه. همدارنګه په لوړو پرتو سيمو کې د ۲۰۱۹/۲۰۲۰ موسم په اوږدو کې د واورې د کتلاتو تراکم، په تېره بيا د هېواد په شمالي او شمال ختيځو سيمو کې، هم له نورمالي کچې څخه لږ وو. خو له بله پلوه بيا په ټيټو پرتو سيمو او د هېواد په مرکزي برخو کې د همدغې مودې په اوږدو کې له منځنۍ کچې څخه د ډېرې واورې د توليدو رپوټونه ورکړل شول. سيمه ييز رپوټونه وايي چې ګڼ شمېر سيمو کې د ۲۰۱۹/۲۰۲۰ لامده موسم په اوږدو کې کافي اندازه او پر خپل وخت ورښتونه وشول چې د نباتاتو په وده او د څړوبولو د اړتياوو په پوره کولو کې يې رغنده رول ولوباوه.

د هېواد په ګڼ شمېر ټيټو پرتو سيمو کې د غنمو حاصلات به ډېر ژر ټول شي، په داسې حال کې چې په لوړو پرتو سيمو کې لا دغه بهير تر اوسه پيل شوی ندی. په داسې سيمو کې چې د لومړي موسم حاصلات ټول شوي دي، د موسم د دويمې کرکېلې – لکه وريجو، جوارو او حبوباتو – لپاره چمتووالی نيول کېږي. په ټوليزه توګه د ۲۰۱۹/۲۰۲۰ کال د لامده موسم په اوږدو کې د هوا مطلوب وضعيت د افغانستان په کچه نورمالې کچې ته د غنمو د حاصلاتو د نږدې والي په تړاو تمې ډېرې کړې دي. خو له هغې سره سره په يو شمېر سيمو کې د ورښت د کمښت او د نباتي آفتونو د اغېزو له امله توليد له منځنۍ کچې څخه ښايي يوڅه ټيټ وي. د افغانستان د شمال په ځينو للمي ځمکو کې تمه کېږي چې د ورښت وارډمخه موسمي کمښت د ۲۰۱۹ کال له اکتوبر څخه تر نوامبر مياشتې پورې له منځنۍ کچې څخه هم په زياته اندازه د غنمو د حاصلاتو د کمېدو لامل ګرځېدلی وي ځکه چې بزګرانو د غنمو تر کښت لاندې ځمکې مساحت کې د غوړو دانو په څېر د نورو کرنيزو اقلامو د کرلو په موخه کمښت راوستلی دی. په ورته وخت کې اټکل کېږي چې د سرخک ناروغي د افغانستان په يو شمېر ختيځو سيمو کې توليدات زيانمن کړي وي. په همدې توګه له نورمالي کچې څخه لوړ ورښتونه او رطوبت د ۲۰۲۰ کال له اپرېل څخه تر مې مياشتو پورې د افغانستان په سويلي برخو کې په پراخه کچه د سرخک ناروغۍ د خپرېدو لامل شول، چې وروسته بيا يو شمېر شمالي سيمو ته هم وغزېده. په زيانمنو شويو سيمو کې د ترلاسه شويو غنمو کيفيت ښايي هومره ښه نه وي ځکه چې د دغو غنمود د درمند پر سر د پېروډنې بيه خورا رالوېدلې ده.

د هېواد په ختيځو ښڼدو کې تمه کېږي چې د ميوې او سابو توليد منځنۍ کچې ته نږدې وي. له اپرېل مياشتې څخه د مې مياشتې تر نيمايي پورې له پاکستان سره د پولې د تړل کېدلو له امله بزګرانو وکړای شول چې خپل محصولات په ښه بيه په بازار کې وپلورې ځکه چې په دغه موده کې له پاکستان څخه واردات بند ول. په پايله کې، د ميوې او سابو د پلورلو له امله عايد په ختيځو سيمو کې له منځنۍ کچې څخه يوڅه لوړ وو. په همدې مهال په مارچ مياشت کې د نورو خوراکي توکو د بيو له لوړېدو سره جوخت د ميوې او سابو لپاره په سيمه ييزه کچه تقاضا لوړه شوه. دغه محصولات، په تېره بيا سابه، د ډېر شمېر کورنيو د خوراکي توکو د اړتياوو په پوره کولو کې رغنده رول لوبوي. د هېواد په سويلي برخو کې هم د ترياک د پلورلو عايد په منځنۍ کچه کې دی او د ميوو د پخېدو لړۍ په ښه توګه پر مخ روانه ده.


په ورته وخت کې د ۲۰۱۹/۲۰۲۰ کال په دغه موسم کې د منځنۍ کچې او له منځنۍ کچې څخه لوړو ورښتونو په افغانستان کې د طبيعي پېښو له رامنځ ته کېدو سره هم مرسته وکړه. د ملګرو ملتونو سازمان د بشرپاله چارو د همغږۍ دفتر (UNOCHA) د رپوټونو له مخې د ۲۰۱۹ کال له اکتوبر څخه د ۲۰۲۰ کال تر مې مياشتې پورې شاوخوا ۵۸۰۰۰ کسان د طبيعي پېښو له امله زيانمن شوي دي چې له هغې جملې څخه ۲۰۰۰۰ کسان له ناڅاپه سېلابونو او شاوخوا ۳۶۰۰۰ کسان له شديدو واورو څخه اغېزمن شول. په هر حال، له طبيعي پېښو څخه د زيانمنو شويو کسانو ټوليزه شمېره د تېر کال په همدې وخت کې د زيانمنو شويو کسانو له ټوليزې شمېرې څخه ټيټه ده ځکه چې په هغه کال شاوخوا ۲۶۰۰۰۰ کسان له ناڅاپي سېلابونو څخه زيانمن شوي ول. په روان کال کې د هېواد سويل ختيځې او ختيځې برخې له نورو سيمو څخه ډېرې د طبيعي آفتونو له امله زيانمنې شوې.

لومړی انځور: د موسمي ورښتونو توليز انحرافونه، د ۲۰۱۹ له اکتوبر څخه د ۲۰۲۰ تر مې مياشتې پورې




سرچينه: *FEWS NET/USGS*

دويم انځور: د کابل په بازارونو کې د لومړنيو خوراکي توکو اوونيزه بيه په کيلوګرام باندې، د ۲۰۲۰ له جنوري څخه تر مې مياشتې پورې؛ ښې کرښې د هغه مهال ښکارندوينه کوي چې په افغانستان باندې تعزيرات وضع شوي ول.




سرچينه: *FEWS NET* د *WFP* د مالوماتو پر بنسټ


په سيمه کې د کرونا ويروس د پانديمي له خپرېدو سره يوځای ګڼ شمېر هېوادونو له نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ په کچه کې د دغه ويروس د مهارولو او يا هم د خوراکي توکو د زېرمه کولو په موخه کمښت راوست. پاکستان د مارچ مياشتې په نيمايي کې له افغانستان سره خپله پوله د ټولو صادراتو او وارداتو پر مخ وتړله او وروسته د مارچ مياشتې په وروستيو کې قزاقستان د غنمو په صادرولو محدوديت وضع کړ. دواړه هېوادونه خوراکي توکو ته د افغانستان په لاسرسي او بيو کې مهم رول لوبوي. پاکستان قاعدتاً د افغانستان د اړتيا وړ وريجې برابروي او يا هم افغانستان ته د وريجو، ځينو ميوو او سابو، غوړيو حبوباتو او نورو خوراکي توکو د راتګ د دروازې په توګه رول لوبوي. دا په داسې حال کې ده چې قزاقستان يواځې د افغانستان د اړتيا وړ غنم برابروي. سربېره پر هغې، افغانستان د مارچ مياشتې په پای کې په لويو ښارونو کې قرنطين اعلان کړ او دوه اونۍ وروسته يې تر هغې هم سختګيره اقدامونه پيل کړل. ټول دغه اقدامونه ددې لامل وګرځېدل چې په ښاري بازارونو کې د لومړنيو خوراکي توکو، په تېره بيا د وارداتي توکو، بيه لوړه شي (دويم انځور).

د مارچ مياشتې د لومړيو او د مې مياشتې د وروستيو تر منځ موده کې په کابل په بازارونو کې د غنمو د اوړو بيه ۲۴ سلنه لوړه شوه، په داسې حال کې چې د غوړيو او حبوباتو په بيه کې ۳۶ سلنه زياتوالی راغی. که څه هم د يوې ډوډۍ بيه لوړه نشوه خو د رپوټونو پر بنسټ د ډوډۍ وزن کم شوی وو چې په پايله کې يې د يوه کيلوګرام اوړو بيه په دې موده کې ۳۲ سلنه زياته شوه. د درمندونو د ټولولو له پيل سره جوخت په ټيټو پرتو سيمو کې په مې مياشت کې د غنمو په اوړو باندې صعودي فشار کم شو. همداراز په مې مياشت کې پاکستان خپل سرحدي محدوديتونه کم کړل، قزاقستان د زياتې اندازې غنمو صادرولو ته اجازه ورکړه او د افغانستان حکومت د قرنطين شرايط يوڅه نرم کړل. دغو اقدامونو د غنمو د اوړو په بيه باندې فشار کم کړ. د جولای مياشتې له ۲۲مې نيټې څخه راپدېخوا د پاکستان پوله د ټولو صادراتو او وارداتو پر مخ په بشپړه توګه پرانيستل شوه. د قزاقستان د صادراتو محدوديتونه د رپوټونو له مخې له جون مياشتې راپدېخوا لېرې شوي دي، که څه هم دا موضوع د دولتي سرچينو له خوا تاييد شوې نده.

په لويو ښارونو کې د کنترولوونکو اقدامونو له کمېدو سره سره عادي کاري فرصتونو ته لاسرسی په پراخه کچه له منځنۍ کچې څخه ټيټه ده چې لوی لامل يې په ساختماني او توليدي سکتورونو کې د کار لپاره د تقاضا نشتوالی ګڼل کېږي. په وروستيو ميشاتو کې د کار په عرضه کې هم زياتوالی راغلی دی. په مارچ مياشت کې ښاري بازارونه د ګڼ شمېر کارګرو له راتګ سره مخ شول. دا هغه مهال وو چې په زرګونه تنه افغان کډوال له ايران او پاکستان څخه هېواد ته را ستانه شول او په افغانستان کې د کاري فرصتونو د لټون په هڅه کې شول. په دې ترتيب، د کار د تقاضا کموالی د کارګرو د شمېر له زياتوالی سره يوځای په مزد باندې نزولي فشار واردوي. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ له وزارت څخه د ترلاسه شويو مالوماتو له مخې د کارګرو مزد په منځنۍ توګه د ۲۰۲۰ کال د اپرېل او مې مياشتو تر منځ پنځه سلنه د درې کلن اوسط څخه ټيټ وو.


د ورځني کار د مزد د کمېدو او د خوراکي توکو د بيې د زياتوالي له امله د دغو دوه لاملونو تر منځ تناسب په دې وروستيو مياشتو کې د پام وړ اندازه نا انډوله شوی دی. د ټول هېواد په کچه دا تناسب له اپرېل څخه تر مې مياشتې پورې پنځه سلنه ټوپير درلود چې د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۳۱ سلنه او د درې کلن اوسط په پرتله ۳۶ سلنه ټوپير ښيي (درېيم انځور). پکتيا، نيمروز، کندز او فارياب ولايتونو تر ټولو ډېر تاوان ليدلی دی ځرنګه چې دغه تناسب په مې مياشت کې ۵۰ سلنه له منځنۍ کچې څخه ټيټ وو. خوست يواځنۍ ولايت وو چې دغه تناسب پکښې له منځنۍ کچې څخه ټيټ نشو.

دریيم انځور: د افغانستان په ولايتونو کې د کارګرو او مالدارانو لپاره د راکړې ورکړې شرايط، د ۲۰۲۰ مې مياشت د درې کلن اوسط په پرتله




سرچينه: *FEWS NET* د کرنې، اوبو لګولوو او مالدارۍ وزارت د مالوماتو پر بنسټ

ځلورم انځور: له ايران او پاکستان څخه د بېرته راستنېدونکو شمېر او هغوی ته د ځانګړو شويو مرستو څرنګوالی د ۲۰۲۰ له جنوري څخه تر مې پورې




سرچينه: *FEWS NET* د *IOM* د مالوماتو پر بنسټ

د ۲۰/۲۰۱۹ کال د لامده موسم په ترځ کې له نورمالې کچې څخه د لوړ ورښت په پایله کې د څرځايونو وضعيت اوس مهال د هېواد په ګڼ شمېر سيمو کې په منځنۍ کچه کې اويا هم له منځنۍ کچې څخه لوړ دی چې له امله يې د څارويو بدني حالت او د توالد او تناسل وړتيا ډېره شوی ده. په روان موسم کې تر دې دمه د کوم غير معمول حيواني ناروغۍ رپوټ ندی ورکړل شوی. په منځنۍ توګه د څارويو بيه د ۲۰۲۰ کال د اپرېل او مې مياشتو تر منځ ثابته پاتې شوه. په ملي کچه د څارويو بيه په مې مياشت کې د تېر کال همدې وخت د بيو په پرتله ۱۴ سلنه او د درې کلن اوسط په پرتله ۱۶ سلنه لوړه وه. په مې مياشت کې د تېر کال تر ټولو لوړې بيې په زابل (۵۷ سلنه لوړې) او بلخ (۵۶ سلنه لوړې) ولايتونو کې وې. په بادغيس ولايت کې چې څارويو وضعيت يې له ۱۸/۲۰۱۷ کال څخه راپدېخوا ورو ورو د سمون په لور تللی دی، د څارويو بيه د درې کلن اوسط په پرتله ۶۶ سلنه لوړ دی چې د ټولو ولايتونو د اوسط په پرتله لوړ دی.

خو له دې سره سره، د څارويو په بيه کې زياتوالی د خوراکي توکو د لوړې بيې د جبران لپاره کافي ندی اوسېدلی. ځکه نو د څارويو او د غنمو د اوړو تر منځ د انډول نسبت د اپرېل او مې مياشتو تر منځ ۴ سلنه نا انډوله شوی دی خو د تېر کال په پرتله ۱۹ سلنه او د درې کلن اوسط په پرتله ۲۲ سلنه لږ شوی وي (دريیم انځور). له منځنۍ کچې څخه تر ټولو ټيټ تناسبونه له ارزګان، لغمان، پکتيا او کابل ولايتونو څخه رپوټ ورکړل شوي دي. بادغيس يواځنی ولايت وو چې پکښې ياد تناسب (۱۹ سلنه) په مې مياشت کې د پام وړ اندازه له منځنۍ کچې څخه لوړ وو.

د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM) له رپوټ سره سم د ۲۰۲۰ کال د جنوري او مې مياشتو تر منځ څه د پاسه ۳۰۰۰۰۰ بې اسناده افغان کډوال له ايران او پاکستان څخه بېرته هېواد ته را ستانه شول چې يواځې ۱۳ سلنو يې هېواد ته له راننوتلو سره سم بشرپاله مرستې تر لاسه کړې (ځلورم انځور). د ټولو بېرته راستنېدونکو تر منځ غوڅ اکثريت يې (څه دپاسه ۹۹ سلنه) له ايران څخه را ستانه شوي دي. د ۲۰۲۰ کال په مارچ کې د کوييد ۱۹ پانديمي له اعلان سره جوخت د افغان کډوالو يوه ستره څپه له ايران څخه د هرات ولايت له لارې افغانستان ته را ننوتله. ايران له لومړنيو هېوادونو څخه وو چې پانديمي پکښې پيل شوه. پايله دا شوه چې بيرته راستنېدونکو په هېواد کې د کرونا ويروس له خپراوي سره مرسته وکړه څرنګه چې ويروس لومړی په هرات ولايت کې خپور شو او وروسته خپلو ولايتونو ته د بېرته راستنېدونکو له ستنېدو سره هغو ولايتونو ته هم خپور شو. د کرونا ويروس پانديمي د ايران اقتصاد خورا وځاپه چې په پايله کې يې کاري فرصتونه په ايران کې د ميشتو افغانانو په ګډون د ټولو لپاره کم شول چې په پايله کې يې د عمده مخبرينو د خبرونو پر بنسټ له ايران څخه د راتلونکو نغدي حوالو اندازه خورا کمه شوه.

د UNOCHA د نويو رپوټونو له مخې کابو ۸۶۴۰۰ کسان د جګړو له امله د هېواد په ۲۷ ولايتونو کې د ۲۰۲۰ کال له جنوري څخه تر مې مياشتې پورې له خپلو کورونو څخه بېځايه شول. دغه ټولګه چې د تېر کال د ورته وخت له ټولګې څخه د پام وړ اندازه کمه ده، لږ تر لږه تر يوه بريده د ۲۰۲۰ د فبرورې په ۲مه نېټه د طالبانو او د امريکا متحدو ايالتونو تر منځ د هوکړه ليک لاسليک کيدو ته عطف کېږي. د ۸۶۴۰۰ کورنيو بېځايه شويو له مينځه شاوخوا ۵۲۰۰۰ (۶۰ سلنه) تنو يې د خوراکي توکو د مرستو کڅوړې او يا هم د خوارو لپاره نغدي پيسې د بېځايه کېدو پر مهال تر لاسه کړې. د افغانستان د بشرپاله غبرګون د پلان (د ۲۰۲۰ د جون مياشتې بياکتنه) پر بنسټ د خوراکي توکو هغه کڅوړې چې کورنيو بېځايه شويو باندې وېشل کېږي د درې مياشتو لپاره يو ځلې مرستندويه کڅوړه ده چې د يوه شخص لپاره په يوه ورځ کې د ۲۱۰۰ کالوريو د برابرولو لپاره بسنه کوي. د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې د تر ټولو ډېر بېځايه شوي د هېواد په ختيځ کې ول.

د تغذي ملي وروستنی سروې (NNS) پر بنسټ چې په ۲۰۱۳ کال کې ترسره شوه، د حادې نړيوالې خوارځواکی (GAM) شيوع په ملي کچه د مالوماتو د راټولولو پر مهال ۹.۵ سلنه وه (95% CI 8.7 – 10.4). له سروې څخه د وروستيو ترلاسه شويو مالوماتو له مخې، حاده خوارځواکي لا تر اوسه هم د افغانستان په ډېرو برخو کې له سترو اندېښنو څخه يوه بلل کېږي. د SMART سروې چې د ۲۰۲۰ کال له مارچ څخه تر اپرېل مياشتې پورې په ننګرهار ولايت کې د ولږې پر وړاندې د اقدام مؤسسې له خوا تر سره شوه، ښيي چې د نړيوالې حادې خوارځواکۍ شيوع، چې د ونې او وزن پر بنسټ (WHZ) د ۶ تر ۵۹ مياشتنيو ماشومانو لپاره اندازه کېږي، ۹.۶ سلنه وه (95% CI 7.5 - 12.2) چې د IPC د چوکاټ له مخې د خبرداري په پړاو کې راځي. په هر حال، ورته سروې ښيي چې د نړيوالې حادې خوارځواکۍ شيوع د مټې د قطر د اندازه کولو پر بنسټ ۱۰.۱ سلنه (95% CI 7.9 - 12.9) وه چې د تغذي د جدي وضعيت ښکارندوينه کوي. په نيمروز ولايت کې د خوارځواکۍ شيوع په ۶ تر ۵۹ مياشتنيو ماشومانو کې د مټې د قطر پر بنسټ ۸.۴ سلنه (95% CI 6.1 – 11.7) او په پروان ولايت کې ۸.۱ سلنه (95% CI 5.8 - 11.2) اټکل شوې ده.

د حادې خوارځواکۍ د هراړخيز مديريت له مالوماتو سره سم چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د عامې روغتيا وزارت د عامه تغذي رياست (PND) څخه ترلاسه شوي، نږدې ۱۳۲۰۰۰ له پنځه کلنې ټيټ ماشومان د ۲۰۲۰ کال د مارچ او مې مياشتو دننه په حادې خوارځواکۍ اخته تشخيص او د IMAM په

پروګرام کې شامل شول. د دغو مشمولينو له ډلې څخه د ۱۰۴۰۰۰ ماشومانو (۷۹ سلنه) درملنه په بریالیتوب سره ترسره شوه. خو له دې سره سره، په اپرېل او مې میاشتو کې په خوارځواکۍ باندې د اخته ماشومانو په شمولیت کې د پام وړ کموالی رامنځ ته شو او کچه یې د تېر کال د همدغه وخت په پرتله ټیټه وه. پر تګ راتګ باندې لګېدلو بندیزونو او په کلنیکونو او روغتونونو کې په کرونا ویروې باندې د اخته کېدو وېرې ښايي په پروګرامونو کې په خوارځواکۍ باندې د اخته ماشومانو د شمولیت په کمېدو کې په افغانستان کې د کرونا ویروس د شیوع پر مهال رول لوبولی وي.

د اپرېل میاشتې په پای کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت لومړی په کابل او وروسته د افغانستان په نورو ښارونو کې بیوزله کورنیو ته د وچې ډوډۍ د وېش لړۍ پیل کړه. په لومړي سر کې دا پروګرام داسې جوړ شوای وو چې د درې پړاوونکو درلودونکی وي. په لومړی پړاو کې هرې مستحقې کورنۍ ته د کورنۍ د غړي پر سر په ورځ کې دوه وچې ډوډۍ ورکول کېدې (په منځنۍ توګه د یوې کورنۍ لپاره ۱۰ ډوډۍ). د کابل ښاروالی د مالوماتو پر بنسټ، په لومړي پړاو کې چې څلوېښت ورځې یې دوام وکړ او ۳۱۱۳۲۰ کورنۍ یې په کابل کې تر پوښښ لاندې راوستلې، ۱۵ میلیونه ډوډۍ وویشلې شوې. د مالیې وزارت رپوټ ورکوي چې د دغه پروګرام په لومړي پړاو کې شپږ دېرش میلیونه ډالره ولګېدل چې له هغې ډلې څخه ۱۴.۸ میلیون ډالر په کابل کې لګول شوي دي. دا پروګرام د قرنطین د قیوداتو تر رفع کېدو وروسته، لږ تر لږه تر یوه بریده د بودجوي محدودیتونو له امله، ودرول شوه.

په ټولیزه توګه کرونا ویروس په کلیوال نفوس باندې هومره اغېزه کړې نده او کلیوالي کورنۍ په دې توانېدلي چې خپلې معیشتي سرچینې وساتي. د افغانستان په ټیټو پرتو سیمو کې د حاصلاتو د ټولولو د موسم له پیل سره جوخت ډېری کلیوالي معیشتي فرصتونه لکه د کرنې په برخه کې ورځني کارونه بېرته راژوندي شول. د خپلې کرکېلې له امله خوراکي توکو د ترلاسه کولو او د ورځنيو کارونو څخه د ترلاسه شویو عوايدو له امله د خوارو د خونديتوب پایلو په ګڼ شمېر کلیوالو سیمو کې سمون وموند. خو له دې سره سره، د کاریګرو د شمېر زیاتوالي او د کاري فرصتونو کموالي ته په کتلو سره ګڼ شمېر بېوزله کورنۍ د خپلو غیر غذايي ضروري اړتیاوو د پوره کولو جوګه نه ول چې په پایله کې یې په ګڼ شمېر کلیوالو سیمو کې د فشار پایلې (د **IPC** دویم پړاو) حاکمې وې. په ورته وخت کې ځیني سیمې چې لا تر اوسه یې خپل د سږ کال حاصل ندی پورته کړی (په شمال ختیځ او مرکزي لوړو پرتو سیمو کې) یا په هغو سیمو کې چې جګړې ورباندې جدي ناوړه اغېزه لرلې ده، تر اوسه هم د ناورین (د **IPC** دریيم پړاو) له پایلو سره مخ دي. سربېره پر دې، هغه کورنۍ چې په عمومي توګه له ایران څخه په راتلونکو حوالو باندې تکیه اوسېدلې دي، په تېره بیا په شمالي سیمو او مرکزي لوړو پرتو سیمو کې، په خورا شدت سره تاواني شوي او د ناورین له پایلو (د **IPC** دریيم پړاو) سره مخ دي.


په ښارونو کې ګڼ شمېر بیوزله کورنۍ چې په عمومي توګه په مزدورۍ او کوچنیو سوداګریو باندې تکیه لري، د کرونا ویروس له امله یې په خپلو عوايدو کې د پام وړ کمښت تجربه کړی دی. په لویو ښارونو کې د قیوداتو له کمېدو سره سره، د کار بازار یوازې یوه کمه اندازه سمون موندلی دی او دغه کورنۍ لا تر اوسه هم د عاید د ترلاسه کولو د فرصتونو له نشتوالي سره مخ دي. له ایران څخه د پیسو د حوالو کمېدلو یو شمېر ښاري بیوزله کورنۍ، په تېره بیا په شمالي سیمه کې، هم زیانمنې کړې دي. په همدې حال کې د خوراکي توکو بیه په غیر معمولي توګه لوړه اوسېدلې ده. پایله دا شوې ده چې یو شمېر کورنۍ دې ته اړې شوې دي چې خوراکي توکي په پور باندې راونیسي چې د هغو پیسې یې له خپلو خپلوانو څخه په پور اخیستې وي، او په بشرپاله مرستو او زکات باندې حساب کوي. په پایله کې، د مرستو کموالي ته په کتو سره، تر اوسه هم تمه کېږي چې یو شمېر کورنۍ د خوارو له کمښت سره مخ وي. د خوراکي توکو اړوند د ټولو اړتیاو د پوره کولو لپاره د کافي عاید نشتوالي په نظر کې نیولو سره، د ناورین پایلې (د **IPC** دریيم پړاو) او تر هغې لوړې پایلې د خوارو د خونديتوب په ډګر کې د ښاري بیوزله کورنیو لپاره شونې دي تر هغې چې دغه تشې د خوراکي توکو د مرستو په واسطه ډکې شي.

### ***انګېرنې***

د ۲۰۲۰ کال له جون څخه د ۲۰۲۱ تر جنوري پورې سناریو په ډېر احتمال سره د لاندې ملي انګېرنو پر بنسټ استواره دی:

- تمه کېږي چې عمده کرنيز حاصلات په ملي کچه منځنۍ کچې ته نږدې وي. خو بیا هم د هېواد د شمال په ځینو للمي سیمو کې چې د موسم په پیل کې د ورښتونو له کمښت سره مخ وې، او همدارنګه په ځینو ختیځو او سویلي سیمو کې چې ناروغي د محصولاتو د کمزورتیا لامل وګرځېده، له منځنۍ کچې څخه لږ د لږ تولید تمه کېږي.
- د نړیوالو روالونو پر بنسټ او د نړیوال روغتیایي سازمان او د لندن د حفظ الصحې او تروپیک طب د سازمان په ګډون د نامتو روغتیایي سازمانونو د مالوماتو له مخې، د کرونا ویروس پاندیمي ښايي په لنډ مهال یا منځ مهال (۱ تر ۶ میاشتې) پورې دوام وکړي.
- په افغانستان کې د کرونا ویروس د ناروغانو د شمېرو د لوړوالي سره سره، په اغېزمنه توګه د قرنطین په نافذولو او یا د وګړو لپاره د خوراکي توکو په برابرولو کې د افغانستان حکومت محدودې وړتیا ته په کتو سره، د قرنطین اقدامات به ښايي په پراخه کچه د دغې سناریو په موده کې ابقا نشي. خو له دې سره سره، ددې شونتیا شته چې ځیني مؤقت کنټرولي اقدامات دې په ځینو ځانګړو سیمو کې چې پکښې د کرونا د ناروغانو شمېر په چټکۍ سره د ډېرېدو په حال کې وي، تر سره شي. دا شونې ده چې سرحدي محدودیتونه او د ښوونځیو تړلي پاتې کېدل په لنډ مهال (یو تر درې میاشتو) کې دوام ومومي. د تاریخي روالونو پر بنسټ، تمه کېږي چې له پاکستان سره پوله تر ډېره بریده د سوداګرۍ پر مخ پرانیستې وي، سره له دې چې د دغې سناریو د دورې په ترڅ کې په دغو محدودیتونو کې د بدلون شونتیا شته.
- د اوسنۍ عرضې پر بنسټ او د قزاقستان له خوا د ځینو صادراتي محدودیتونو د لېرې کېدو په صورت کې، تمه کېږي چې په ټولیزه توګه د غنمو د وارداتو کچه منځنۍ کچې ته نږدې او افغانستان د وارداتو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره کافي وي.
- په ملي کچې منځنۍ کچې ته د تولید او وارداتو لپاره د تمو په نظر کې نیولو سره، تمه کېږي چې د غنمو د اوړو پرچون بیه اوسني موسمي روالونه تعقیب کړي، سره له دې چې د دغې سناریو د مودې په اوږدو کې به له منځنۍ کچې څخه لوړه پاتې شي. وړاندوینه کېږي چې د وریجو بیه د دغې سناریو په موده کې ثابته پاتې شي ځکه چې پاکستان په منظمه توګه افغانستان ته وریجې عرضه کوي.

پنځم انځور: د کابل په بازارونو کې د غنمو د اوړو اوسنۍ او اټکل شوې بیه، د ۲۰۲۰ له جنوري څخه د ۲۰۲۱ تر جنوري پورې




سرچینه: د FEWS NET محاسبې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د مالوماتو پر بنسټ

- دې ته په پام سره چې له منځنۍ کچې څخه خورا ډېر شمیر بې اسناده افغان کډوال په مارچ میاشت کې له ایران څخه هېواد ته را ستانه شول، همدارنګه د سرحدي محدودیتونو د کمښت او له منځنۍ کچې څخه د لږ کاري فرصتونو د شتون په تړاو د تمو په نظر کې نیولو سره، اټکل کیږي چې ګڼ شمېر افغانان بېرته د کاري فرصتونو د ترلاسه کولو لپاره په منځ مهال کې ایران ته لاړ شي. په هر حال، په بهر کې – په تېره بیا ایران کې – د افغان کډوالو ټولیز شمېر ښایي له کرونا څخه د مخکې دورې په پرتله د سفر په مسیرونو کې د نا امنۍ او په ایران کې د ناوړه اقتصادي وضعیت له امله له منځنۍ کچې څخه ټیټ پاتې شي. تمه کیږي چې دغه حالت ددې لامل وګرځي چې له ایران څخه د راتلونکو پیسو د حوالو اندازه کمه شي خو د خلیج فارس هېوادونو څخه به د حوالو اندازه کمه نشي.
- اټکل کیږي چې د غله جاتو او میوو د خرڅلاو عاید به د دغې سناریو په موده کې پرته له بدلونه پاتې شي.
- اټکل کیږي چې د عمومي اقتصادي رکود له امله به غیر کرنیزو کاري فرصتونو ته لاسرسی – په تېره بیا په لویو ښاري بازارونو کې – په لنډ مهال او منځ مهال کې له منځنۍ کچې څخه لږ وي. کرنیزو کاري فرصتونو ته لاسرسی به ښایي نورمالې کچې ته نږدې وي.
- د څرځایونو مطلوب وضعیت ته په کتو سره، د څارویو بدني او تکثري وضعیت ښایي منځنۍ کچې ته نږدې وي، او د څارویو د هېڅ ډول کتلوي مهاجرت تمه نه کیږي. له منځنۍ کچې څخه د اوسنیو لوړو بیو په نظر کې نیولو سره د څارویو بیه به ښایي د دغې سناریو په موده کې له منځنۍ کچې څخه یوڅه لوړه وي. د جولای میاشتې په اوږدو کې د لوی اختر له امله وړاندوینه کیږي چې د څارویو بیه به د پاتې موسم په پرتله څرنګه چې معموله ده، پورته وي.
- د دویم موسم (مارچ – مې) د ورښت او دم ګرۍ اوبو ته د لاسرسي په نظر کې نیولو سره، تمه کیږي چې منځنۍ کچې ته نږدې د ځمکې اندازه د موسم د دویم کښت، په تېره بیا د وریجو او جوارو تر کښت لاندې راوستل شي. اټکل کیږي چې د دغو محصولاتو تولید منځنۍ کچې ته نږدې وي او حاصل یې په سپتامبر – اکتوبر میاشتو کې واخیستل شي.
- د موسم لومړي او دویم کښت حاصلاتو ته د تمې په نظر کې نیولو سره، اټکل کیږي چې د دغې سناریو د مودې په اوږدو کې د کورنیو د خوراکي توکو د زېرمو اندازه منځنۍ کچې ته نږدې پاتې شي. ډېرې بیوزله کورنۍ به ښایي وکړای شي چې خپلې د خوراکي توکو زېرمې د ۲۰۲۰ کال د دسامبر تر پایه ورسوي. د قحطۍ موسم له پرمختګ سره جوخت د ګڼ شمېر کورنیو د خوراکي توکو زېرمې به هم پای ته ورسیږي او هغوی به له بازار څخه پېرودلو او له مرستندویه ادارو څخه د مرستو تر لاسه کولو ته اړ شي.
- تمه کیږي چې د دوبي په موسم کې د هوا په تودېدو سره به نا امني ګانې او جګړې هم شدت ومومي. په دې موده کې د کورنیو بېځایه شویو د شمېر د زیاتېدو شونتیا لیدل کیږي.
- عاید ته له منځنۍ کچې څخه د لږ لاسرسي او د خوراکي توکو له منځنۍ کچې څخه لوړې بیې ته په کتو سره، د حادې خوارځواکۍ شیوع، په تېره بیا له لنډ مهال څخه تر منځ مهاله پورې په ښاري سیمو کې، په ملي کچه ښایي د دغې سناریو په موده کې ډېره شي. ددې شونتیا هم لیدل کیږي چې په نا امنو ولسوالیو کې دې له کور څخه د خلکو د بې ځایه کېدلو، د معیشت خنډني کېدلو او روغتیایي او خوراکي خدمتونو ته د لاسرسي د کمېدو له امله د حادې خوارځواکۍ کچه لوړه شي.
- د کرونا ویروس د اغېزو له امله تمه کیږي چې د بشرپاله مرستو اندازه د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې له منځنۍ کچې څخه لوړه وي. د FSAC د مالوماتو له مخې، د بشرپاله خوراکي توکو د دوه میاشتنیو مرستو د کڅوړو ورکړه چې ارزښت یې په منځنۍ توګه په میاشت کې ۷۰ امریکایي ډالرو ته رسیږي (۱۰ ډالره د کورنۍ د هر غړي پر سر په یوه میاشت کې؛ په هره کورنۍ کې په منځنۍ توګه ۷ غړي) د درې میلیونه کسانو لپاره ډېرې په ښاري سیمو کې تر ډېره بریده د کووید ۱۹ پر وړاندې د غبرګون د یوې برخې په توګه تمویلیږي، سره له دې چې د وېش پلانونه یې لا وروستي شوي ندي.
- د لومړنیو وړاندوینو له مخې، د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر میاشتې له پیل څخه د ۲۰۲۱ کال تر جنوري پورې به د ورښت اندازه له منځنۍ کچې څخه ټیټه وي. خو له دې سره سره به کښت او کار په منځني حالت کې قرار ولري ځکه چې د ژمګنیو غنمو لویه برخه د خروب له ډوله څخه ده.

*د خوارو د خوندیتوب ډېرې شونې پایلې*

په ډېرې کلیوالو سیمو کې تمه کیږي چې منځنۍ کچې ته نږدې د کرنیزو حاصلاتو تولید او د څاریو ښه توالد او تناسل به د خوراکي توکو د مصرف په وضعیت کې له جون څخه تر سپتامبر پورې دوره کې چې کورنۍ خوراکي توکي له خپلو تولیداتو څخه تر لاسه کوي، سمون رامنځ ته کړي. د دغې مودې په اوږدو کې تمه کیږي چې ګڼ شمېر کلیوالې کورنۍ به ښایي ددې جوګه وي چې خپل د خوراکي توکو ټولې اړتیاوې پوره کړي او د خوراکي توکو د خوندیتوب وضعیت یې د فشار په کټګورۍ کې قرار ولري (د IPC دویم پړاو). د ۲۰۲۰ کال له دسامبر میاشتې څخه وروسته تمه کیږي چې د ګڼ شمېر کورنیو د خوراکي توکو زېرمې ختمې شي او هغوی به له بازار څخه پېرودلو ته اړ شي. د کار د بازار کمزورتیا او له منځنۍ کچې څخه د خوراکي توکو د بیې د لوړوالي شونتیا ته په کتو سره خوراکي توکو ته د کورنیو لاسرسی ښایي محدود وي او د ناورین پایلې (د IPC دریېم پړاو) به ښایي په ځینو سیمو کې د ۲۰۲۰ کال په جنوري میاشت کې را ښکاره شي.

په ډېريو مرکزي لوړو پرتو سيمو کې به د قحطۍ موسم د ژمکنيو حاصلاتو تر ټولېدو يعني تر جولای/اګست مياشتې پورې دوام وکړي. د حاصل ټولولو د موسم له پيل سره به کڼ شمېر بېوزله کورنۍ په دغو سيمو کې د خوراکي توکو په مصرف کې سمون احساس کړي او د خوراکي توکو د خونديتوب پايلې به يې د ۲۰۲۰ کال له جون څخه تر سپټامبر مياشتې پورې د فشار (د IPC دويم پړاو) ته لوړې شي. خو له دې سره سره، د دغو کورنيو زېرمې يوازې يو څو محدودې مياشتې دوام کوي. څکه نو د قحطۍ د موسم له پيل سره په نوامبر او دسامبر مياشتو کې تمه کېږي چې د ګڼ شمېر کورنيزو د خوراکي توکو زېرمې تشې شي چې په پايله کې به يې کورنۍ بنايي ونکړای شي چې خپلې د خوراکي توکو ټولې اړتياوې پوره کړي چې له دې امله د وړاندوينې د دورې په ټوله پاتې برخه کې د ناورين پايلو (د IPC درييم پړاو) شونتيا ليدل کېږي. د بدخشان ولايت په لوړو پرتو سيمو کې، چېرته چې د حاصلاتو د راټولولو کار لا تر اوسه پيل شوی ندی، تمه کېږي چې د ناورين پايلې (د IPC درييم پړاو) تر سپټامبر مياشتې پورې دوام وکړي چې وروسته به د اکتوبر/نوامبر مياشت کې د حاصلاتو له ټولولو سره يوځای د فشار پايلې (د IPC درييم پړاو) را برسېره شي.

په ورته وخت کې په ښاري سيمو کې د ډېر شمېر بېوزله کورنۍ له منځنۍ کچې څخه لږ کاري فرصتونو ته د لاسرسي او د خوراکي توکو له منځنۍ کچې څخه د لوړو بيو له امله بنايي د پخوا په شان د پېرودنې لږ توان ولري. بېوزله کورنۍ به د عايد د ترلاسه کولو د فرصتونو د کموالي له امله بنايي د لږ مغذي او غير دلخواه خوراکي توکو ته مخه کړي او له اندازې لږ خواړه به خوري. هغه په ښارونو کې مېشتې کورنۍ چې د خوارو دوه مياشتنۍ بشرپاله مرستندويه کڅوړې ترلاسه کوي بنايي کېدای شي تر هغه مهاله چې مرستې دوام مومي د فشار پايلو (د IPC دويم پړاو) سره مخ وي خو د وچکالۍ د موسم په دوام سره بنايي د ناورين (د IPC درييم پړاو) پايلو سره مخ شي.

کورنيو بېځايه شويو د خپل معيشت د ساتني او د خپلو ځمکو د کرلو وړتيا له لاسه ورکړې ده چې په پايله کې يې نوي بېځايه شوي خلک چې درې مياشتنۍ بشرپاله مرستې ترلاسه کوي بنايي له بېځايه کېدو وروسته د لومړيو دريو مياشتو په اوږدو کې د فشار پايلو (د IPC دويم پړاو) او له هغې وروسته بيا د کاري فرصتونو د نشتوالي له امله د ناورين پايلو (د IPC درييم پړاو) سره مخ وي. جګړه او طبيعي آفتونه سربېره پر دې چې د خلکو د بېځايه کېدو لامل کېږي، بنايي روغتيايي خدمتونو او خوارو ته د هغوی لاسرسی هم خنډنی کړي چې دا به په خپل وار سره بنايي له پنځو کلونو څخه د ټيټ عمر لرونکو او اميندواره او شېدې ورکوونکو ښځو په شان د زيانمنونکو ډلو د تغذي د وضعيت د لاپسې خرابېدو لامل وګرځي (PLWs).

*هغه پېښې چې بنايي په وړاندوينه کې بدلون راولي*

په راتلونکو اتو مياشتو کې شونې پېښې چې کولای شي په تر ټولو شونې سناريو کې بدلون راولي:

| سيمه | پېښه | د خوارو خونديتوب باندې اغېزې |
|---|---|---|
| ملي | د پولو تړلې پاتې کېدل يا په اټکل شوې اندازه د کار لپاره د کډوالۍ بېرته نه پيل کېدل | دا به په ټول افغانستان کې له ښارونو څخه نيولې بيا تر کليو او بانډو پورې په هغو کورنيو کې چې د خپل معيشت د بقا لپاره د کار په موخه کډوالۍ او د پيسو حوالو باندې تکيه لري عايد ته د لاسرسي د محدوديت د دوام لامل وګرځي چې البته د خوراکي توکو د خونديتوب په پايلو باندې به منفي اغېزې ولري داسې چې د هغو کسانو تر منځ چې په شدت سره اغېزمن شوي دي بنايي د ناورين پايلې (د IPC درييم پړاو) يا تر هغې بدې پايلې را منځ ته شي. |
| ملي | د جون او سپټامبر مياشتو تر منځ د پاکستان د پولې بېرته تړل کېدل | دا حالت به هغه کورنۍ چې بنوالي کوي زيانمنې کړي او بنايي د غله جاتو د خرڅلاو له لارې تر لاسه کېدونکې عايد کې کموالی راولي داسې چې تر ټولو ډېر تاوان به سوېلي سيمه ووينې. تر اوسه هم به په سيمه بيزه کچه د فشار پايلو (د IPC دويم پړاو) تمه کېږي. |
| ملي | له وړاندوينې څخه د کوويډ ۱۹ پانديمي بدتره کېدل | په کورنيو باندې په مستقيمو اغېزو کې کېدای شي د کورنيو د غړو لپاره د کاري فرصتونو کېدل، د روغتيايي لګښتونو زياتېدل او د رواني روغتيا د وضعيت خرابېدل شامل وي. د غير مستقيمو اغېزو په ډله کې بنايي د عايد په ترلاسه کولو باندې ډېرې اغېزې او د خوراکي توکو بيې راشي. سربېره پر دې، په نړيوالو بازارونو کې د افغانستان صادرات به له لاپسې جدي محدوديتونو سره مخ شي چې د کورنۍ او ملي کچه کې پر عوايدو باندې به اغېزه ولري. هغه کورنۍ چې تر ټولو ډېرې زيانمنې شوې وي بنايي د ناورين له پايلو (د IPC درييم پړاو) يا تر هغې هم بدو پايلو سره مخ شي. |
| ملي | د کوويډ ۱۹ له امله په غير معمولي توګه د خوراکي توکو د بيې لوړېدل | دا حالت به د بېوزله کورنيو د پېردونې توان نور پسې را کم کړي چې پايلې به يې په ځانګړې توګه پر هغو ښاري کورنيو باندې چې پر بازار باندې متکي دي، ډېرې زورې وي، خو تمه به کېږي چې کليوالي کورنۍ هم په مخ پر زياتېدونکې توګه اغېزمنې کړي څکه چې د دسامبر مياشتې په شاوخوا کې خوراکي توکي کمېږي. دا په خپل وار سره بنايي ددې لامل به وګرځي چې ډېرې کورنۍ د ناورين پايلو (د IPC درييم پړاو) يا تر هغو هم بدو پايلو ته ورسېږي او همدارنګه د کليوالو سيمو دوضعيت خرابېدل او د ناورين پايلو (د IPC درييم پړاو) ته د هغو دننه کېدل به هم د قحطۍ له موسم سره جوخت رامنځ ته کړي. |
| ملي | د افغانستان حکومت او طالبانو د ډلې تر منځ د سولې هوکړه ليک | دا حالت به بنايي د تاوتريخوالي د کچې د راټيټېدو لامل وګرځي. د بېځايه شويو مرګ ژوبله به ډېره شي. په وروسته کلونو کې به پر معيشت باندې مثبتې پايلې تجربه شي. |

## د اندېښنې وړ موارد

*کله چې د اپرېل میاشتې په پای کې د اندېښنې وړ سیمې په ګوته کېدې، FEWS NET پروژه د غیر معمولو ورښتونو د اړوندو رپوټونو، سرحدي محدودیتونو او پر دغو ولایتونو باندې د کووید ۱۹ د نورو اغېزو د سپړلو په حال کې وه. له سیمې څخه د اضافي تر لاسه شویو مالوماتو په رڼا کې د FEWS NET څېړنه ښیي چې دغه سیمې به د لومړنۍ وړاندوینې په پرتله د خوارو د توکو له لږ کمښت سره مخ شي.*

### ***ننګرهار ولایت***

*اوسنۍ وضعیت*

له سرچینو څخه د ترلاسه شویو مالوماتو پر بنسټ، د ۲۰۲۰ کال له اپرېل څخه تر مي میاشتې پورې له منځنۍ کچې څخه د لوړو ورښتونو له امله کولای شو تمه ولرو چې په غنمو کې سرخک ناروغي او په سابو کې قرغنه ناروغي د دغو اقلامو حاصلات د تېر کال په پرتله د ۱۰ تر ۲۰ سلنې په اندازه را کم کړي. د غنمو د کیفیت د ټیټوالي له امله ښایي د درمند پر سر بیه یې د سیمه ییزو کتونکو د کتنو له مخې ټیټه وي چې په دغه ولایت کې د غنمو تولیدوونکو کسانو په عاید باندې منفي اغېزه لري. اوس مهال د پیازو، کچالانو، رومي بانجان او نورو موسمي سابو په څېر د ترکاریو او سابو د حاصل ټولولو لړۍ دوام لري. د جون میاشتې په وروستیو کې له پاکستان سره د پولې د تړل کېدو له امله پاکستاني سابه او ترکاري د دغه ولایت له لارې افغانستان ته رادننه نه شول چې په پایله کې یې د دغه ولایت دننه او دباندې د سابو او ترکاریو لپاره تقاضا لوړه وه چې له امله یې په ننګرهار ولایت کې د سابو او میوو د تولیدوونکو عاید لوړ شو. د ننګرهار په کلیوالو سیمو کې غنم او سابه د کلیوالو کورنیو د عاید اصلي سرچینه ده.

په ورته وخت کې د غنمو د اوړو، غوړیو او لوبیا په ګډون د لومړنیو خوراکي توکو بیه د پام وړ اندازه له منځنۍ کچې څخه لوړه پاتې ده. د جلال آباد په بازار کې د اپرېل او مي میاشتو تر منځ د غنمو د اوړو بیه ۴ سلنه نوره هم لوړه شوه ترڅو د تېر کال په پرتله ۴۰ سلنه او د درې کلن اوسط په پرتله ۵۰ سلنه لوړه وي. په همدې وخت کې د اپرېل او مي میاشتو تر منځ د مزدورکارۍ د مزد اندازه ثابته پاتې شوه که څه هم د تېر کال له همدې وخته څخه ۳۳ سلنه او د درې کلن اوسط په پرتله ۱۷ سلنه ټیټه وه. له منځنۍ کچې څخه د پام وړ اندازه د خوراکي توکو د بیې د لوړوالي او مزد د ټیټ والي له امله په بازار باندې د متکي کورنیو د پېروډنې توان کم شوی دی.

د جلال آباد په شان ښاري سیمو کې بیوزله کورنۍ تر ډېرو د ورځني کار په مزد او کوچنیو سوداګریو باندې تکیه دی. د دوبي په میاشتو کې ماهر کاریګر عموماً پاکستان ته کډه کېږي او هلته په کافي اندازه پیسې ترلاسه کوي څو د خپلو کورنیو خوراکي او غیر خوراکي اړتیاوې پوره کړي. خو د سږ کال په جریان کې د پولې د تړل کېدو له امله دغو کارکوونکو ونشو کړای چې پاکستان ته لاړ شي چې له امله یې پنځه سلنه کورنۍ چې د خپل معیشت لپاره په کاري کډوالۍ باندې تړلي دي، په شدت سره اغېزمني کړې. سربېره پر هغې، دغه ولایت ته له پاکستان او ایران څخه د پیسو د حوالو اندازه هم د پام وړ اندازه کمه شوه چې د دغه ولایت په ښارونو او کلیو کې د بیوزله کورنیو عاید کې یې د پام وړ ټیټوالی راوستی دی.

د امریکا متحدو ایالتونو او طالبانو تر منځ د سولې د هوکړه لیک له لاسلیک کېدو وروسته د رپوټونو له مخې په دغه ولایت کې امنیتي پېښو کې کمښت راغلی دی. خو له هغې سره سره د **UNOCHA** له رپوټ سره سم شاوخوا ۲۸۰۰۰ کسان د ۲۰۲۰ کال له جنوري څخه تر مي میاشتې پورې په ختیځ کې د جګړو له امله له خپلو کورونو بهر شول چې ډیری یې جلال آباد ښار کې ځای پر ځای شوي دي چې له هغې ډلې څخه شاوخوا ۵۵ سلنه بېځایه شویو یا مرستندویه خوراکي توکي او یا هم د خوارو لپاره نغدې پیسې تر لاسه کړې دي. د دغو بېځایه شویو په راتګ سره د هغو کسانو شمېر چې په جلال آباد ښار کې د کمو کاري فرصتونو پر سر سیالي کوي ډېر کړی او د ښاري بیوزلو له پخوا څخه کمزوري معیشت باندې یې فشار راوستلی دی.

د یوې SMART سروې د موندنو له مخې چې د AAH له خوا د ۲۰۲۰ کال د مارچ میاشتې له ۳۰مې څخه د اپرېل تر ۷مې ترسره شوه او د ننګرهار ولایت ۲۲ ولسوالۍ یې تر پوښښ لاندې راوستلې، شاوخوا ۲۷ سلنه کورنیو رپوټ ورکړ چې په کافي اندازه خواړه د خوراک لپاره نلري (۲۴ سلنه د Poor FCS او ۲.۲۴ سلنه د Borderline FCS په توګه راجستر شوي دي)، او لږ تر لږه ۴۲ سلنه متوسطه او لوړه کچه مجادله د مجادلوي ستراتیژۍ ګانو د شاخصونو (rCSI) له مخې یې ځانونه راجستر کړل. همدغې سروې اټکل وکړ چې د ۶ تر ۵۹ میاشتنیو ماشومانو تر منځ حاده خوارځواکي د متې د قطر د اندازې پر بنسټ ۹.۶ سلنه (95% CI 7.5 – 12.2) او د وخیمې خوارځواکۍ شیوع ۱.۸ سلنه (95% CI 1.0 – 3.3) وه. خو له دې سره سره، د MUA د اندازه کولو له مخې، د حادې خوارځواکۍ شیوع یوڅه لوړه یعنې ۱۰.۱ سلنه (95% CI 7.9 – 12.9) او د وخیمې خوارځواکۍ شیوع ۲.۴ سلنه وسنجول شوه (95% CI 1.5- 3.9) . د MUAC د سنجونې له مخې، په ننګرهار ولایت کې د تغذې وضعیت د خبرداري په کچه کې ګڼل کېږي، خو د MUAC له سنجشونو سره سم هغه په جدي کچه کې طبقه بندي کېږي. د عامې مړینې کچه په یوه ورځ کې په ۱۰۰۰۰ کسانو کې ۰.۴۶ (95% CI 0.26 - 0.81) او د پنځو کلونو څخه د ټیټ عمر لرونکو ماشومانو د مړینې کچه په یوه ورځ کې د ۱۰۰۰۰ کسانو په منځ کې ۰.۵۲ (95% CI 0.20 - 1.35) وه چې دواړه له اضطراري قدمې څخه ټیټې دي. د حادې خوارځواکۍ وروستي اټکلونه د هغه څه په پرتله چې په SMART سروې کې په ۲۰۱۶ کال کې په ننګرهار ولایت کې ترلاسه شوي ول، ټیټ دي، که څه هم د ډاډ د کچې متداخل توب د روالونو تشخیصول ناممکنه کوي. په ۲۰۱۶ کال کې د حادې خوارځواکۍ شیوع د متې د قطر د اندازه کولو پر بنسټ ۱۲.۶ سلنه (95% CI 10.1 – 15.5) او د وخیمې خوارځواکۍ شیوه درې سلنه (95% CI 1.9 – 4.7) وه.

په کلیوالو سیمو کې تمه کېږي چې ګڼ شمېر کلیوالي کورنۍ خپل د اړتیا وړ خواړه له کرنیزو حاصلاتو څخه ترلاسه کړي او همدارنګه د خپلو محصولاتو د خرڅلاو او د میوو او سابو په کروندو کې د کرنیز کار له لارې یوڅه عاید ترلاسه کړي. ښایي دغه کورنۍ په دې وتوانېږي چې خپل ضروري خوراکي اړتیاوې پوره کړي خو خپلې ټولې غیر ضروري خوراکي اړتیاوې پوره کولی نشي چې په پایله کې یې د فشار د پایلو (د **IPC** دویم پړاو) تمه کېږي. عاید ته له منځنۍ کچې څخه د لږ لاسرسي او د خوراکي توکو د بیې د لوړوالي په پایله کې د دغه ولایت هغه ګڼ شمېر کورنۍ چې په بازار باندې متکي دي، په تېره بیا په ښاري سیمو کې، د خوارو د خوندیتوب د ناورین (د **IPC** دریيم پړاو) پایلو سره مخ دي ځکه نو بشرپاله مرستو ته اړتیا ده ترڅو چې مصرفي تشې ډکې او د معیشت ساتنه وکړي. په ننګرهار ولایت کې بې ځایه شوې کورنۍ اوس مهال د یو شمېر مرستندویه مؤسسو له خوا د یو لړ بشرپاله مرستوله ترلاسه کولو سره سره ښایي د خوراکي توکو له کمښت او د ناورین پایلو (د **IPC** دریيم پړاو) سره مخ وي.

*انګېرنې*

د پورتنيو ملي انګېرنو سربېره، د ننګرهار ولايت لپاره تر ټولو شوني سناريو د لاندې انګېرنو پر بنسټ جوړه شوې ده:

- اټکل کېږي چې د ګڼ شمېر کليوالو کورنيو د غنمو زېرمې به د ۲۰۲۱ کال تر جنوري مياشتې پورې دوام وکړي.
- له کومه ځايه چې ګومان کېږي چې په سرحدي تګ راتګ باندې به محدوديت وضع شي، پاکستان ته کاري کډوالي ښايي په لنډ مهال کې د پام وړ اندازه کمه شي. پايله به دا وي چې د دغې مودې په اوږدو کې به له پاکستان څخه دغه ولايت ته راتلونکي د پيسو د حوالو شمېر خورا لږ شي.
- له شريکانو څخه د ترلاسه شويو مالوماتو پر بنسټ، تمه کېږي چې په ننګرهار ولايت کې بشرپاله خوراکي مرستې د ۲۰۲۰ کال له جولای څخه تر اکتوبر مياشتې پورې د راز راز پروګرامونو او د خوارو لپاره د نغدو پيسو په چوکاټ کې څه دپاسه ۲۰۰۰۰۰ کسانو ته ورسېږي. خو دا مرستې لا تر اوسه پلان او تمويل شوې ندي او شونتيا يې ډېره نده، ځکه نو د اټکل شويو پايلو په څېړنه کې په نظر کې نيول شوې ندي.

*د خوارو د خونديتوب خورا شونې پايلې*

تمه کېږي چې ډېری کليوالي کورنی د ۲۰۲۱ کال تر جنوري مياشتې پورې د پخوا په شان د خپلو خوراکي توکو په زېرمو باندې تکيه ولري. خو له دې سره سره، ډېری کليواله بېوزله کورنی چې په حوالو باندې متکي دي او يا هغه کورنی چې د غنمو حاصل يې د سرخک ناروغی يا نورو نباتي ناروغيو څخه اغېزمن شوی دی ښايي د عايد له کمښت سره مخامخ شي. په کاري کډوالي باندې متکي کورنی به هم په لنډ مهال کې د عايد له کمښت سره مخامخ شي. د دغې موضوع په نظر کې نيولو سره کولای شو تمه ولرو چې ډېری کورنی به د خپلو خوراکي توکو د لومړنيو اړتياوو د پوره کولو لپاره پيسې په پور واخلي او يا هم به د غير مطلوبو خوراکي توکو خوړلو ته مخه کړي، په داسې حال کې چې د فشار پايلې به لږ تر لږه د ۲۰۲۱ تر جنوري پورې متوقع وي.

د کنترولي اقداماتو له کمېدو سره سره د ګڼ شمېر ښاري بېوزله کورنی چې ډېری په ورځ مزدوری، کوچنيو راکړو ورکړو او ترانسپورتي خدمتونو (لکه ريکشا) بندې اتکا لري، لږ تر لږه د ۲۰۲۱ کال تر جنوري پورې به د پخوا په څېر د ناورين (د **IPC** درېيم پړاو) له پايلو سره مخ وي. هغوی به د بشرپاله مرستو نه پرته د خپلو لومړنيو خوراکي او غير خوراکي اړتياوو د پوره کولو جوګه نه وي. تمه کېږي چې ښاري کورنی چې بشرپاله خوراکي مرستې تر لاسه کوي د دغو مرستو تر دوام موندلو پورې د فشار (د **IPC** دويم پړاو) له پايلو سره مخ وي خو د قحطی د موسم له پای ته رسېدو سره سم به، ځکه چې عايداتي فرصتونه به هم له منځنی کچې څخه لږ وي، د ناورين (د **IPC** درېيم پړاو) پايلو ته نزول وکړي.

***بلخ ولايت***

*اوسنی وضعيت*

په کليوالو سيمو کې د کرونا ويروس په کرنيزو کړنو باندې لږ اغېزه درلودلې ده. له رپوټونو سره سم خروب او للمي کرنيزې ځمکې په منځنی اندازه تر کښت لاندې لاړې، چې البته د کرنې لمن د تېر کال په پرتله پراخه شوې وه. د غوړو دانو کرنه او بنوالي په موقع سره تر سره شوه. د ۲۰/۲۰۱۹ کال د لامده موسم په پيل کې د ورښتونو د کمښت رپوټ ورکړل شو، خو وروسته بيا د موسم په پای کې د ورښت له کمېدو سره را منځ ته شوی کسر جبران او د حاصلاتو پخېدو ته زمينه مساعده شوه.

د نورو ولايتونو په څېر په دې ولايت کې هم د کرونا ويروې د خپرېدو د مخنيوي اړوند تدابير نيول شوې دي چې د لويو ښارونو قرنطين چې د اپرېل مياشتې له لومړيو څخه د مې مياشتې تر وروستيو پورې يې دوام درلود، پکښې شامل وو. د قرنطين د دورې پر مهال دغه محدوديتونه د بيو د لوړېدو لامل شول او په ښارونو کې يې د عايد ترلاسه کولو ته ستر تاوان ورساوه. بلخ ولايت هم د کرونا ويروس له امله له ايران څخه د ګڼ شمېر بېرته راستنېدونکو د بېرته راستنېدو او له ايران، پاکستان او ترکيې څخه د حوالو د کمښت خبر ورکړی دی.

د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت څخه د ترلاسه شويو اطلاعاتو له مخې د مزار په مارکيټ کې د غنمو د اوړو بيه د اپرېل او مې مياشتو تر منځ ثابته پاتې شوه خو د تېر کال د ورته وخت په پرتله ۳۷ سلنه او د درې کلن اوسط په پرتله ۵۰ سلنه لوړه وه. په پايله کې، د ورځ مزدوري او خوارو تر منځ تناسب ۱۳ سلنه د تېر کال له ورته وخت څخه او ۲۱ سلنه د درې کلونو له اوسط څخه ټيټ وو. سربېره پر هغې، له منځنی کچې څخه ډېر د پسونو په بيه کې لوړوالی د غنمو د بيې د لوړېدو د جبران لپاره کافي نه وو. په پايله کې، د څارويو او د غنمو د اوړو تر منځ تناسب هم له منځنی کچې څخه ۱۱ سلنه ټيټ پاتې شو.

په کليوالو سيمو کې ډېری کورنی هغه خوراکي توکي چې خپله يې کرلي او حاصل يې ټول کړی دی، کاروي. خو له دې سره سره، کاري فرصتونه، د لاسي صنايعو خرڅلاو او د پيسو حوالې د کوېيډ ۱۹ له امله ډېر ټکني شوي دي او لا تر اوسه عادي حالت ته راګرځېدلي ندي. په پايله کې، ګڼ شمېر بېوزله کورنی ښايي د خپلو ټولو غير غذايي لومړنيو اړتياوو د پوره کولو توان ونلري، چې دا حالت د فشار پايلو (د **IPC** دويم پړاو) سره اړخ لګوي. په ښاري سيمو کې تمه کېږي چې د کورنيو اقتصاد د کاري فرصتونو د کموالي او د حوالو د کمېدو له امله هم زيانمن شي. د بديل معيشت د وسايلو د نشتوالي له امله د خوراکي توکو لپاره په بازارونو او بشرپاله مرستو باندې اتکا کافي نده او ډېری ښاري بېوزله کورنی د خپلو ټولو اقتصادي اړتياوو د پوره کولو توان نلري او د ناورين (د **IPC** درېيم پړاو) د پايلو تمه کېږي.

انګېرنې

د پورتنيو ملي انګېرنو برسېره، د بلخ لپاره تر ټولو شوني سناريو د لاندې انګېرنو پر بنسټ جوړه شوې ده:

- تمه کېږي چې د ډېرو بيوزله کورنيو د خوراکي توکو زېرمې د ۲۰۲۰ کال تر نوامبر مياشتې پورې پای ته ورسېږي. په يوه نورمال کال کې د غنمو زېرمې پنځه تر شپږ مياشتې او سابه او ترکاري څلور تر پنځو مياشتو دوام کوي.
- کليوالو سيمو کې بازارونو ته لاسرسی ښايي ځيني وختونه د ژمي په جريان کې د ۲۰۲۰ کال د دسامبر او د ۲۰۲۱ کال د جنوري تر منځه محدود وي.

*د خواړو د خونديتوب تر ټولو شوني پايلې*

په کليوالو سيمو کې ډيری کورنی ښايي هغه خوراکي توکي چې خپله يي کرلي او رېبلي او همداراز د خپلو توليداتو د خرڅلاو له امله ترلاسه شوی عايد وکاروي، څکه نو تمه کېږي چې د خوراکي توکو زېرمې د ۲۰۲۰ کال تر اکتوبر پورې دوام وکړي. خو له دې سره سره، په کاري فرصتونو او حوالو باندې د کوويد ۱۹ د اغېزو د دوامداره کېدو له امله به بيوزله کورنی د دغې سناريو په ټوله موده کې لږ عايد ولري. د ژمي په مياشتو کې به عايد ته د کورنيو لاسرسي هم کاري فرصتونو ته د لاسرسي د کمښت له امله لږ وي. په پايله کې يي به بيوزله کليواله کورنی ښايي کافي خواړو ته لاسرسی ولري خو د دغې سناريو په ټوله موده کې به ښايي د خپلو ټولو غير غذايي اړينو اړتياوو د پوره کولو توان ونلري چې ددې حالت تمه د فشار (د **IPC** دويم پړاو) په پړاو کې کېږي.

په ښاري سيمو کې اټکل کېږي چې د حوالو او د کاري فرصتونو د کمېدو اغېزې د دغې سناريو په ټوله موده کې دوام ولري. په پايله کې ددې شونتيا ليدل کېږي چې ګڼ شمېر په ښاري بازار باندې متکي کورنی به د خپلو خوراکي اړتياوو د پوره کولو لپاره نامطلوبه خوراکي توکي خوري او يا هم به په کمه اندازه ډوډۍ خوري. په ټوليزه توګه تمه کېږي چې ښاري بيوزله کورنی د بشرپاله مرستو د نشتوالي په صورت کې لا هم د ناورين (د **IPC** دويم پړاو) له پايلو سره مخ وي. ښاري کورنی چې بشرپاله مرستې ترلاسه کوي تر هغه مهاله چې له دغو مرستو څخه برخمن ديد فشار (د **IPC** دويم پړاو) له پايلو او د مرستو له پای ته رسيدلو وروسته او د قحطۍ موسم له دوام موندلو سره به د ناورين (د **IPC** دريېم پړاو) له پايلو سره مخې شي څکه چې اټکل کېږي چې د عايد د ترلاسه کولو فرصتونه به له منځنی کچې څخه لږ وي.

**د سناريو جوړونې په اړه**

FEWS NET بمنظور پيشبينی نتايج مصئونيت غذايی مجموعه ای از پندار ها راجع به رويداد های محتمل، اثرات آنها و پاسخ احتمالی دست اندرکاران مختلف را به وجود می آورد. FEWS NET اين پندار ها را در روشنی اوضاع فعلی و معيشت محلی بمنظور رسيدن به محتمل ترين سناريو برای هشت ماه آينده به تحليل می گيرد. برای معلومات بيشتر اينجا کليک کنيد.

FEWS NET د خواړو د خونديتوب د پايلو د وړاندوينې لپاره د شونو پېښو په اړه د انګېرنو، د هغو اغېزې او د بېلابېلو شريکانو احتمالي غبرګونونو يوه ټولګه را منځ ته کوي. FEWS NET دغه انګېرنې د فعلي وضعيت او ځايي معيشت په رڼا کې تر ټولو شوني سناريو ته د رسېدلو په موخه د راتلونکو اتو مياشتو لپاره تر څېړنې لاندې نيسي. د لازياتو مالوماتو لپاره دلته کليک وکړئ.